مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۰۴

# زموږ روغتیايي سیستم

که خدای مه کړه له چا سره مې دعوا شي، دا بهتره ګڼم چې پخپله يې غوڅه کړم، له حکومته مې تمه ختلې ده. زه پوهېږم چې زموږ فاسد قضايي سیستم د دې پر ځای چې د خلکو تر منځ حقوقي لانجې حل کړي، لا يې لانجمنوي. خو که مریضي راته پيدا شي نو څه به وکړم؟

زموږ دولتي روغتونونه په بېلابېلو څانګو کې تکړه متخصص ډاکتران لري؛ خو هلته له ناروغ سره خواري نشته. ډاکتر د لس زره افغانیو میاشتنی تنخواه په بدل کې توله ورځ په روغتون کې نه تېروي، غرمې نه وروسته خپل شخصي کلینيك یا معاینه خانې ته ورځي. اوس هغه وختونه تېر دي، چې له هر چا څخه د ایډیالې تقوا تمه ولرو. تاریخ ثابته کړې ده، چې انسانان تر ډېره ځمکني موجودات دي، نه اسماني.

شخصي روغتونونه د پیسو په خاطر له ناروغانو سره نسبتاً ښه سلوك کوي؛ خو علمي سویه يې ټيټه ده. خصوصاً اکثر بهرني ډاکتران په مسلك کې ضعیف دي. په دولت کې داسې سیستم نشته چې د دوی سویه معلومه کړي، یوازې د دوی په بهرنیو اسنادو اعتبار کېږي. زموږ د پوهنتونونو ډیپلوم په نورو هېوادونو کې نه چلېږي؛ خو په خپل هېواد کې مو د نورو هغو اسناد په پټو سترګو منل کېږي.

په نورو هېوادونو کې طب په ډېرو څانګو وېشل شوی دی. ځکه چې د هرې څانګې ساحه ډېره پراخه ده او د انسان ظرفیتونه محدود دي. زموږ په روغتونونو کې عمومي داخله یو مسلك دی، چې ډاکتران په درو کلونو په کې تخصص اخلي. په نورو ملکونو کې د هر سیستم د داخله ناروغیو څانګه بېله ده: قلبي، تنفسي، پښتورګي، هضمي، وینه، روماتېزم، او د داخلي غدوات سیستمونه هر یو خپل خپل متخصصان لري. یوازې قلبي سیستم څلور پنځه نورې تخصصي څانګې لري. که سړی خپله انرژي په یوه محدوده ساحه کې ولګوي، نو ډېر څه به زده کړي؛ خو که سمندر نه غېږه تاوه کړي، هېڅ به هم په لاس ورنه شي. زموږ د تخصص پروګرامونه همداسې دي.

په نورو ملکونو کې هېڅ شی بېخي وړیا نه وي. طبي خدمتونه په دولتي روغتونونو کې ارزانه وي؛ خو مفت نه وي. هلته دولتي روغتونونه له ناروغانو څخه تر شخصي کلینیکونو خورا کم فیس اخلي او له همدې فیس څخه د روغتون لپاره نوي سامان اخلي او د روغتون په بیارغاونه کې ورنه کار اخلي. ډاکتران هم په دې فیس کې برخه لري، دوی ته د روغتون د عوایدو په حساب اضافي پیسې ورکول کېږي، نو ډاکتران يې په شوق سره مریضان ګوري، دوی چې څومره ډېر ناروغان وګوري، هماغومره به ډېرې پیسې واخلي.

که دولت غواړي چې روغتیايي سیستم مو په معیار برابر شي، نو باید دغه څو کارونه وکړي. یو خو دې تخصص له عمومیاتو وباسي او پر وړو څانګو يې ووېشي. دویم دا چې وړیا سیستم دې بند کړي. یو څوك چې تر روغتونه پورې د رسېدو لپاره دوه سوه افغانۍ ټکسیوان ته ورکولای شي، نو د شلو افغانیو فیس د پرې کولو وس به هم ولري. البته په نورو ملکونو کې یو خو د روغتیايي بیمې شرکتونه شته چې د خلکو صحي ستونزې ورحلوي او بل د خیر ښېګنې موسسې دي، چې له بېوزلو سره مرسته کوي او د درملنې پیسې يې ورکوي. موږ دغه شیان نه لرو. په هر حال زموږ روغتیايي سیستم جدي ستونزې لري او باید اصلاحات په کې راشي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ